**مطبوعاتي اعلاميه**

**نړيوال کمپاين: (کورنۍ، ستونزې او اسلامي حل لارې)**

**د حزب التحرير د مرکزي مطبوعاتي دفتر د ښځو د څانګې لخوا پيليږي**

**(ژباړه)**




د حزب تحرير د مرکزي مطبوعاتي دفتر د ښځو څانګه د روان کال د اکتوبر په درېيمه د (کورنۍ، ګواښونه او اسلامي حل لارې) تر سرليک لاندې نړيوال کمپاين پيلوي، چې د همدې مياشتې په وروستيو کې به يو کنفرانس جوړ شي او له ټولې نړۍ څخه به ورته ويناوال ويناوې وکړي.

يوه متحده او مستحکمه کورنۍ په يوه ټيکاو لرونکې او ځواکمنه ټولنه کې جوړېږي؛ دا ټولنه د خپلو وګړو بنسټيزې اړتياوې لکه معنوي، مادي او عاطفي اړتياوې پوره کوي او خپلو ټولو وګړو ته په يوه سترګه ګوري او د خپلو ماشومانو له حقونو ساتنه کوي او د دوی سمې ودې ته پاملرنه کوي. يوه کورنۍ کېدی شي د خپلې کورنۍ د غړو لپاره د خوښۍ، مينې، ارامۍ او خونديتوب غځېړه وي او يا کېدی شي د وېرې، بدمرغۍ او غم بستر وي. اوسمهال د اسلامي خاورو په شمول په ټوله نړۍ کې د ښځې او مېړه ترمنځ اړيکې او همدارنګه د کورنۍ د نورو غړو ترمنځ اړيکې له ناورين سره مخ دي او د کورنۍ اتحاد او د مينې ژوند يې نړولی دی. لېبرالې جنسي نړوونکې ازادۍ، د ژوند تش په نامه خوندونو، د پانګوال نظام مادي پلوه موخې او مېرمن پلوه ليدلوري لکه جنسيتي برابرښت، د رسنيو، تفريحي برنامو، سوداګريزو اعلانونو، د ښوونيزو نظامونو، ټولنيزو شبکو او د مېرمن پلوو سازمانونو له لارې دا نړوونکي افکار خپرېږي او د دې لامل شوي دي  چې د ازدواج بهير ګډوډ شي او کورنۍ نظام ړنګ شي.  همدارنګه غربي، اسيايي، افريقايي او نور پردي رواجونه او عادتونه

چې په اسلامي ټولنو کې ترويج شوي دي، د مېرمنې او خاوند ترمنځ د اختلافونو لامل شوي دي او د ټولنيز ژوند پر وړاندې يې خنډونه جوړ کړي دي. دا او همدارنګه د اسلام د ټولنيز نظام څخه ناخبري په واده کولو کې د بې ځايه تمو، په ګډ ژوند کې د مېړه او ښځې د حقونو نه پيژندلو، کورني تاوتريخوالي، د طلاق د زياتوالي او د مورولي د دندې د ټيټ ګڼلو لامل شوي دي چې پايله يې نامشروع او حرامې جنسي اړيکې او واده نه کول دي. په ځينو اسلامي خاورو کې د کورنۍ د بېلېدلو او تيتېدلو اصلي لامل د غرب د مزدورو چارواکو لخوا د سېکولرېزم او غير اسلامي نظامونو د فاسدو قوانينو پلي کول دي، دا لېبرال غير اخلاقي او چټل قوانين او د غربي ژوند کړنلاره پر اسلامي امت باندې تپل کېږي. سربېره پر دې دا مزدور واکمنان له غربي دولتونو او نړيوالو سازمانونو او همدارنګه د مېرمن پلوو د نړيوال خوښځت په مرسته هڅې کوي چې په اسلامي خاورو کې لېبرال سېکولريستي ارزښتونه ترويج کړي. اوسمهال د اسلامي امت د کورنيو ژوند د اندېښنې وړ دی او د ړنګېدو پر لوري روان دی او د دې ټولو تر شا غرب دی. په داسې حال کې چې ځواکمنتيا، وحدت او يو پر بل زړه سوی د يوې اسلامي کورنۍ ځانګړتياوې دي.

د کورنيو ناکامي، ړنګېدل او بېلېدل يې د سخت غم او خپګان لامل شوي او د کورنيو پر ماشومانو سخت ذهني اغېز کوي. نو له همدې امله اړينه ده چې اسلامي کورنيو ته سخته پاملرنه وشي او د دوی له بېلېدو او ړنګېدو څخه مخنيوی وشي. په دې مهم او حياتي کنفرانس کې به په لاندې موضوعاتو خبرې وشي:

- د هغو خطرونو او ګواښونو بربنډول او څرګندول چې په اوسني عصر کې د دې لامل ګرځي چې زموږ د کورنيو اسلامي جوړښتونه په غير اسلامي جوړښتونو باندې بدل کړي.
- د دولتي او رسنيزو موقفونو په شمول د هغو بنسټيزو لاملونو بيانول او پيژندل چې د ښځې او مېړه د ګډ ژوند پر وړاندې خنډ شوي دي.
- د مسلمانانو د ټولنيز ژوند او د دوی د اسلامي کورنيز نظام پر وړاندې د ملي او نړيوالو برنامو بربنډول، چې له اسلام څخه د مسلمانانو د لېرې کېدو لامل شوي دي.
- د اسلام پر ټولنيز نظام پراخ بحث او دا چې دا نظام د نر او ښځې ترمنځ اړيکې څنګه تنظيموي او دا بې جوړې او بې عيبه قوانين څنګه د مېړه او ښځې مسووليتونه او ارزښتونه ټاکي او له ګډ ژوند څخه ساتنه کوي او کورنيو ته مينه او خوښي ډالۍ کوي، مور ته لوړ مقام ورکوي او د کورنۍ بنسټ او بېخ ټينګوي.
- په دې کنفرانس کې به په دې هم خبرې وشي چې د نبوت پر منهج د اسلامي خلافت تر سيوري لاندې اسلامي نظام څنګه کورني نظام ته وده ورکوي او ساتنه يې کوي.

دغه کنفرانس کولی شئ چې http://www.hizb-ut-tahrir.info/en/index.php/dawah/cmo/16024.html

لېنک او د www.facebook.com/WomenandShariah فسبوک پاڼې او https://www.youtube.com/watch?v=mAppEwzYDXc&feature=youtu.be وېډیویي لېنک له لارې وڅارئ.

**ډاکټر نسرین نواز**

**د حزب تحریر د مرکزي مطبوعاتي دفتر د ښځو د څانګې رییسه**

**۱۴۴۰ د محرم ۲۳مه**

**۲۰۱۸ د اکتوبر ۱۳مه**

**د صدور شمیره:** 003 AH1440